**د سعودي نظام د حرمین شریفین په خاوره کې د کلیسا جوړولو قصد لري**

**(ژباړه)**



د شرق نصارا او د انطاکیا اسقف (مسیحي رهبر) «بشاره بطرس راعي» سعودي ته په سفر کې د سعودي له ولي عهد او ملک سلمان سره ولیدل. د سعودي له خبري شبکې نه په نقل، د ۲۰۱۷م کال د نومبر پر ۱۴مه «راعي» په خپله لیدنه کې له ملک سلمان سره د اعتدال په ترویج، د افراطیت او تروریزم د مخنیوي او په سیمه او نړۍ کې دسولې او امنیت په راوستو کې د بېلابېلو ادیانو او ثقافتونو د رول پر اهمیت خبرې وکړې. په دې توګه د انطاکیا د رهبر خبرې د سعودي د ولي عهد له هغه خبرو سره سمون خوري، چې د ۲۰۱۷م کال د سپټمبر پر ۲۴مه یې کړې وې، چې ګویا سعودي غواړي خپل مخکیني حالت (معتدل اسلام ته چې دروازه یې د ټولو ادیانو پر مخ پرانستې ده) وروګرځي. همدارنګه زیاته یې کړه: « دېرش کاله مو له افراطي افکارو سره په تعامل کې نه ضایع کوو او د طبیعي ژوند غوښتونکي یو. موږ غواړو خپل مخکیني حالت ته وروګرځو، چې د ټولو دینونو، رواجونو او خلکو پر مخ پرانیستی اسلام دی.» داسې معلومېږي، چې د سعودي ولي عهد غواړي سعودي د سیکولرېزم خواته بوځي او اسلام ته د دعوت مخه ونیسي او همدارنګه نصراني او نور دینونه له اسلام سره برابر کړي.

له بلې خوا کوېټي اونیزې د ۲۰۱۷م کال د نومبر پر ۱۴مه د انطاکیا رهبر بشاره بطرس راعي لبناني ته د ملک ال سعود له خوا د سرو زرو د یوې ارزښتمنې ډالۍ ورکړې خبر ورکړ. همدارنګه اونیزه زیاتوي: «د راعي لیدنه به پر سیاسي اړیکو سربېره د کلیسا جوړولو په برخه کې د سعودي اداري لومړی ګام وي، چې قدامت یې ۹۰۰ کلونو ته ورګرځي، چې ویل کېږي د اسلام او مسیحیت د خبرو اترو رمز پېژندل شوې او د اسلام پر وړاندې به قطب شي.

نو پر دغه اساس د سعودي نظام د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر وړاندې له هغه څه سره، چې الهي وحی حرام کړي، چې په عربي جزیره کې د کلیسا او یا کفري معبد یا کفر شتون دی، خپله جګړه اعلان کړې ده.

**عثمان طه**

۲۰۱۷م، د نومبر ۲۲مه

ژباړن: بشارت